ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے



# هغه سړی چې تېښ نهٔ شول

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Jonathan Hay
Alastair Paterson

خوښونکے: Mary-Anne S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.



نبوکدنضر بادشاه د سرو زرو یوه لویه مجسمه جوړه کړه. او دا د سر نه تر پښو پورې د سرو زرو وه. کېدے شی چې بادشاه هغه خوب هېر کړے وو کوم چې خدائ پاک هغهٔ ته رالیږلے وو چې په کښې وئیلی شوی وو چې ستا دا ښکلې بادشاهی به همېشه قائمه پاتې نهٔ شی. کېدے شی چې هغهٔ دا سوچ کړے وی کهٔ چرې ما د ټوله مجسمه د سرو زرو نه جوړه کړه نو د هغهٔ په خوب کښې به د خدائ پاک کلام پوره نهٔ شی.




د بادشاه په کسانو کښې يو کس ټولو خلقو
ته د بادشاه حکم واورولو، چې تاسو د سرو
زرو دې بت ته سجده وکړئ. او کۀ چرې
څوک دې ته سجده نۀ کوی نو هغه په د اور
په بټۍ کښې واچولے شی.
3


بادشاه چې کوم حکم کړے وو نو ټول خلقو
د هغۀ حکم ومنلو، خو بغېر د هغه درېو
کسانو نه، دا کسان عبرانيان وو.
4


او د دوئ نومونه شدرک، ميشک او عبدنجو وو او د دانيال
ملګری وو. داسې ښکاری چې په دغه وخت کښې دانيال
هلته موجود نۀ وو. ځکه چې يقيناً دانيال به هم د
انسان د لاسونو
جوړې شوې دې
مجسمې نه
انکار کولو.
5


د بادشاه نو هوښيارانو به د دانيال او د هغۀ د ملګرو نه
نفرت کولو. ځکه چې د بادشاه هغوئ خوښ وو. نو هغوئ
ووئيل، چې درې سړی دی څوک چې تا د بابل د صوبې
مشران جوړ کړی. يعنې شدرک، ميشک او عبدنجو. اے
بادشاه سلامت دوئ ستا خبره نۀ منی، نۀ ستا د
معبودانو عبادت کوی او نۀ ستا د
سرو زرو د مجسمې عبادت
کوی. لکه څنګه چې
تا حکم کړے دے.
6


نبوکدنضر بادشاه ډېر په
قهر او غصه شو. او
هغوئ ته يې ووئيل، کۀ
چې تاسو دې ته سجده ونۀ
کړئ نو تاسو به هم هغه
وخت د اور بليدونکې بټۍ
کښې وغوزولے شئ. او
يو داسې معبود نشته دے
چې هغه تاسو زما د لاسو
نه بچ کړی.
7


بادشاه دا يو ډېر لويه غلطی کوله. واقعی هغۀ ژوندی خدائ
له چيلنج ورکولو. هغه درېو عبرانيانو کسانو ته پته وه. چې
د يوې مجسمې عبادت کول، د خدائ د حکم خلاف دی.
هغوئ ولاړ وو ځکه چې د هغوئ په خپل خدائ پاک باندې
يقين وو. او هغوئ د بادشاه نه نۀ ويرېدل.
8


دې درېو زرۀ ورو سړو بادشاه له جواب ورکړو.
هغوئ ووئيل زمونږ خدائ پاک د چا چې مونږ عبادت
کوو. هغه سره دا قدرت شته دے چې هغه به مونږ د
اور د دې بټئ نه بچ کړی.
9


او اے بادشاه هم هغه به مونږ ستا د لاسونو نه بچ کړی.
او تا ته معلومه ده چې مونږ به نۀ ستا او نۀ ستا د دې
معبودانو عبادت وکړو. او دې د سرو زرو مجسمې ته
کومه چې تا جوړه کړې ده سجده نۀ کوو.
10


نو بيا نبوکدنضر
غصه شو او هغۀ
حکم وکړو چې بټئ
د نور کله اووۀ چنده
زياته گرمه کړئ.
خو بيا هم هغه سړو
سجده ونۀ کړه.
11


بادشاه د خپل لښکر يو څو زورورو
پهلوانانو ته حکم وکړو چې سدرک او
ميسک او عبد
نجو وتړی او د
اور په بټئ
کښې ئې
واچوی
12


د بټئ دومره زياته گرمه
شوې وه چې کوم کسانو چې
شدرک، ميشک او عبدنجو
بټئ ته ورغوزول نو هغوئ
د اور د شعلو په وجه
باندې هلاک شول.
13


بادشاه د لرې نه کتل، هغۀ کتل چې هغوئ درې واړه يې د
اور بټئ مينځ ته غورزول. خو دا له پوره هر څۀ نۀ وو څۀ
چې هغۀ وليدل.
14

نبوکدنضر بادشاه
حېران وو. هغه د خپل
یو مدد ګار نه پوښتنه
وکړه، هغۀ وئیل ولې
مونږ درې کسان نۀ
وو تړلی او د اور
له بټۍ کښې مو
نه غورزولی؟



15

نو هغۀ ورته په جواب کښې
ووئیل، آو، نو هغۀ ورته ووئیل
چې وګوره زۀ په اور کښې
څلور کسان وینم چې
تړلی نۀ دی او ګرځی
راګرځی. او هغوئ ته
هیڅ نقصان نۀ دے
راسېدلے. او هغه
څلورم د خدائ د
زوئ په شان دے.



16

نو بیا نبوکدنضر د اور بټۍ
خواته راغلو او وې وئیل،
اے شدرکه، میشکه او عبدنجو
د خدائ تعالی بندیانو! بهر
راووځئ او د لته راشئ. نو بیا
شدرک، میشک
او عبدنجو بهر
راووتل.



17

نو بیا ټول هغوئ ته کتل او وې لیدل چې اور د هغوئ بدن
له هیڅ نقصان نۀ دے ورکړے، تر دې چې د هغوئ د سر
ویښته هم نۀ سوزېدلی. او نه راګونجی شوی وو. او د
هغوئ د اور د سوزېدو بد بوئی هم نۀ راتلو.



18

کله چې هغوئ ته پته ولګی چې څۀ واقعه شوې ده. نو
نبوکدنضر بادشاه یو ډېر د هوښیارتیا کار وکړو. هغۀ دعا
وکړ او وې وئیل، شدرک، میشک او عبدنجو خدائ پاک
دې مبارک وی. چا چې خپله فرښته راولیږله او خپل خلق
یې آزاد کړل. چا چې په هغۀ
باندې توکل وکړو او د بادشاه
حکم یې ونۀ منلو.



19

هغه سړی چې تیټ نۀ شول

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

دانیال ۳

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."

زبور 130:119

20




33 60



دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲